مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
سه شنبه د ۱۴۰۰ د وري ۱۷مه | د ۲۰۲۱ د اپریل شپږمه | ۷۰۴مه ګڼه

# له ګوابنونو او فشارونو سره همهاله؛

## په دوحه کې د ترکیې د کنفرانس پر اجنډا او اصولو بحثونه روان دي



۳

### د ترکیې غونډه به نوره هم ځنډېږي؟

۲ مخ

### افغانستان په روان مالي کال کې تر ۱۷ میلیاردو افغانیو ډېر پور اخیستی

۲ مخ


### ایا طالبان به امریکایانو ته د دوحې تړون نور هم تمدید کړي؟

۳ مخ

## ځېره


۴ مخ

### دېرک والکاټ



دېرک والکاټ افریقایي الاصله لیکوال، کره کتونکی، تیوریسن، ننداره لیکوال او نقاش و. هغه د خپلو همدغو فعالیتونو له امله د نوبل جایزه هم اخیستې ده.

## ټولګټو وزارت: په روزګان کې د ۳۴ میلیونه افغانیو په لګښت د یوه لوی پل رغنیزې چارې بشپړې شوې



د ټولګټو وزارت چارواکي وايي، چې د روزګان ولایت مرکز اړوند بلاغ سیمه کې د ۳۴ میلیونه افغانیو په لګښت د یوه لوی پل چارې بشپړې شوې دي. یاد وزارت وايي، چې دغه پل د ۷۲ متره اوږدوالي او ۷ متره سور تر څنګ ۱۴۶ متره د پُل ساتونکی دېوال هم لري، چې اوسمهال يې رغنیزې چارې بشپړې او نږدې راتلونکې کې به ګټې اخیستنې ته وسپارل شي. د سرچینې په خبره، دا پل چې د روزګان ولایت مرکز ترینکوټ ښار له چارچینو او دهراوود ولسوليو سره نښلوي، رغنیزې چارې يې د حکومت په مالي لګښت د څه باندې ۳۴ میلیونه افغانیو په ارزښت له یوه خصوصي ودانیز شرکت سره تړون شوی، چې اوسمهال یې کار بشپړ او ګټې اخیستنې ته چمتو دی. د یاد پُل د رغنیز کار په جریان کې د سیمو خلکو ته پر کارې بوختیاوو سربېره، به اوس د سیمې خلک وکولی شي تر څو خپل کرنیز محصولات په خوندي او تر پخوا په چټک ډول ترینکوټ ښار او له هغه ځایه د هېواد نورو ولایتونو ته ولېږدوي.

## نیویارک ټایمز: امریکا هڅه کوي چې په افغانستان کې د تاوتریخوالي لوړه کچه راټیټه کړي

نیویارک ټایمز امریکایي ورځپاڼې په یوه مطلب کې ویلي، امریکا هڅه کوي چې له بېلو لارو فشار راولي، څو په افغانستان کې تاوتریخوالی کم شي او دوی ته زمینه برابره شي چې خپل سرتېري له دغه هېواده وباسي. په مطلب کې راځي، که امریکا په راتلونکو څو اونیو کې د تاوتریخوالي پر کمولو او یا د سرتېرو ایستلو ته د زمینې پر برابرولو بریالۍ نه شي، نو دا به د بایډن د واکمنۍ لومړنۍ ماتې وي.

سرچینه کاږي، طالبانو خبرداری ورکړی چې که تر ټاکلې نېټې بهرني ځواکونه له افغانستان و نه وځي، دوی به جګړې شدیدې کړي، چې دا به د بایډن پر حکومت یو فشار وي او ښايي د سولې هڅې له خنډ او ماتې سره مخ کړي.

په ورته مهال یوې بلې غرب رسنۍ یورو اېشیا رېویو خپرونې هم ویلي چې افغان جګړې په امریکا کې خپل محبوبیت بایللی او ډېری امریکایان په دې باور دي چې دغه جګړه بې مانا او له بې ځایه لګښتونو پرته بله هېڅ ګټه نه لري. سرچینه کاږي چې د بایډن اداره هم نه غواړي په افغانستان کې خپلې بې مانا او بې پایه جګړې ته دوام ورکړي. د سرچینې په خبره، امریکا د افغان سولې په اړوند یوه طرحه وړاندې کړې چې ښکېل اړخونه يې ردوي او نه غواړي چې یو بل سره په ګډه د یو نظام تر چتر لاندې کار وکړي. د خپرونې له لوري خپرې شوې اوږدې لیکنه کې راغلي، روغه جوړه چې مهمه موضوع ده او تر لاسه کول يې ګران کار دی، د افغانستان د اوږدې او خونړۍ جګړې د پای ته رسولو کیلي ګڼل کېږي.

## ولسي جرګه:

## حکومت دې ژر تر ژره په ادارو کې سرپرستي پای ته ورسوي



۲ مخ

## سیګار:

## ۴۰ تا ۶۰ درصد درآمد طالبان از تجارت مواد مخدر به دست می‌آید



سیگار یا ادارهٔ بازرس ویژه امریکا برای بازسازی افغانستان، در گزارشی می گوید که ۴۰ تا ٦۰ درصد درآمد طالبان از تجارت مواد مخدر به دست می‌آید.

در این گزارش، به نقل از شورای امنیت سازمان ملل متحد، آمده‌است که میان سال‌های ۲۰۱۸ تا ۲۰۱۹ میلادی، طالبان از این رهگذر، ۴۰۰ میلیون دالر درآمد داشته‌اند.

طالبان این گزارش را رد می‌کنند و می‌گویند که در تولید و تجارت مواد مخدر، هیچ نقشی ندارند؛ اما مقام‌های دولت نیز بر دست داشتن طالبان و جنگجویان این گروه در کار و بار مواد مخدر تأکید می‌ورزند.

احمدضیا سراج، رئیس عمومی امنیت ملی نیز دراین باره می‌گوید: «اکثریت این‌ها حالی مصروف جمع کردن حاصلات کوکنار استند، از حاصلات کوکنار وقتی که این‌ها بیرون می‌شوند، پلان‌شان این است که در نقاط مختلف جنگ‌ها را بیشتر بسازند».

گُل‌احمد کمین، عضوی ولسی جرگه از ولایت کندهار می‌گوید: «این طبیعی است که وقتی در ساحات زیر تصرف طالبان این مسایل باشد، آنان از این عاید بگیرند و در برخی از ساحات حتا در مناطق زیر ادارهٔ دولت هم این مسایل وجود دارد.»

در این میان، پیامدهای شیوع ویروس کرونا و خشک‌سالی بر زنده‌گی کشاورزان در بیشتر بخش‌های کشور، نگرانی‌ها را از احتمال افزایش کشت خشخاش در افغانستان، در سال روان و سال آینده، نیز افزایش داده‌است.




## سرليکنه

# د ترکیې غونډه به نوره هم ځنډېږي؟

ټاکل شوې چې د افغانستان د سولې په تړاو په ترکیه کې برخلیک ټاکونکې غونډه جوړه شي. دا غونډه چې د امریکا په هڅو جوړېږي، لومړی د مارچ په ۲۷مه جوړېدله، خو اوس اپریل ته وځنډېدله. اوس امریکایي چارواکي وايي چې دا غونډه به د اپریل په ۱٦مه جوړېږي او لس ورځې به دوام کوي. د همدې لپاره د افغان سولې لپاره د امریکا ځانگړی استازی له کابل وروسته ترکیې او قطر ته ولاړ او اوس یو ځل بیا کابل ته را گرځېدلی. نوموړی هڅه کوي ځو ټول اړخونه دې ته قانع کړي چې په همدې نېټې غونډې ته ورشي.

دې غونډې ته لس ورځې پاتې دي، خو ایا شوني ده چې په دومره وخت کې دې ښکېل لوري دې غونډې ته تیار شي او غونډه دې وشي؟

دا په رښتیا هم ډېره ژر ده، ځکه چې لا هم جدي خنډونه شته. تر گردو مهم خنډ دا دی چې د امریکا او طالبانو تر منځ د ځواکونو د وتلو په تړاو لانجه نه ده هواره شوې. د امریکا او طالبانو د هوکړې پر اساس ټول بهرني ځواکونه باید تر مې میاشتې له افغانستان څخه ووځي، خو امریکایانو ویلي چې دوی تر دې وخته نه شي وتلی. طالبان بیا وايي چې امریکایان باید هوکړه عملي کړي او تر مې میاشتې ووځي. په دې ډول د طالبانو او امریکایانو تر منځ یوه لانجه را پورته شوې ده. که دا لانجه حل نه شي، نو د ترکیې غونډه به یا وځنډېږي او یا به هم بریالۍ نه وي. که هوکړه عملي شي او بهرني ځواکونه ووځي، نو بیا به د ترکیې غونډه په ټاکل شوې نېټه وشي او بریالۍ به هم وي، خو که بهرني ځواکونه ونه وځي او ځو میاشتې نور هم دلته وي، بیا به غونډه ژر ونه شي. له همدې امله د دې غونډې وخت او برخلیک د طالبانو او امریکا تر منځ د بهرنیو ځواکونو د وتلو په لانجې پورې تړلی دی.

بله لویه ستونزه دا ده چې لا هم حکومت او سیاسي اړخونه دې غونډې ته تیار نه دي. تر اوسه پورې هېڅ تیاری نه دی نیول شوی، اجنډا معلومه نه ده او ان دا هم معلومه نه ده چې په دې غونډه کې به له کابل څخه څوک گډون کوي. د حکومت استازي معلوم نه دي او د سیاستوالو او سیاسي گوندونو د استازو په اړه هم څه نه دي ویل شوي. له بله اړخه لا هم له کابل څخه ورتلونکی پلاوی نه واحد دریځ لري او نه هم واحده طرحه. ارگ وايي چې دوی طرحه لري چې له وخت وړاندې پر ټاکنو را څرخي. د مصالحې عالي شورا وايي چې دېرش طرحې ور رسېدلې دي او دوی پرې کار کوي چې یوه معقوله او ټولو ته د منلو وړ طرحه ترې را وباسي. دا وخت اخلي او ښيي چې په کابل کې حکومت او سیاستوال د ترکیې غونډې ته چمتو نه دي. دغو ستونزو ته په پام سره نه ښکاري چې د ترکیې غونډه به د اپریل په ۱٦مه وشي. که بیا هم وشي، نو د امریکا په ډېر فشار او زور به شوې وي او په طبیعي ډول به یوه داسې غونډه وي چې ټول اړخونه امریکا په زور را ټول کړي وي او هر څه به د امریکا په خوښه مخ ته ځي.

# افغانستان په روان مالي کال کې تر ۱۷ میلیاردو افغانیو ډېر پور اخیستی

عزیزالله همدرد

افغان دولت په داسې حال کې په روان مالي کال کې له نړیوال وجهي صندوقه ۱۷،۴ میلیارده افغانۍ پور اخیستی، چې له دې مخکې یې له نړیوالو بنسټونو او هېوادونو ۱،۸ میلیارده امریکایي ډالر پور اخیستی و.

د پژواک راپور له مخې، افغانستان په تېرو ۱۷ کلونو کې له نړیوال بانک، اسلامي پراختیایي بانک، سعودي فنډ، اسیایي پراختیایي بانک، د پیسو نړیوال وجهي صندوق (IMF)، بلغاریا او ایټالیا هېوادونو، کویټ فنډ او اوپک فنډ څخه ۱،۸ میلیارده امریکایي ډالره پور اخیستی، چې له دې ډلې یې ۳۰۰ میلیونه ډالره بېرته ورکړي دي.

د مالیې وزارت سرچینو ویلي، افغانستان اوسمهال د نړیوالې ټولنې ۱،۵ میلیارده امریکایي ډالر پوروړی دی.

د بودیجې کسر د تازه پور اخیستو لامل شوی

د مالیې وزارت ویاند محمد رفیع تابع پژواک خبري اژانس ته منلې، چې افغان حکومت په روان کال کې د بودیجې کسر له امله پور اخیستی دی.

هغه زیاته کړې: «مالیې وزارت په ۱۴۰۰ مالي کال کې د ۱۷،۴ میلیارده افغانیو بودیجې کسر وړاندوینه کړې وه، چې دغه اندازه یې د پیسو له نړیوال صندوقه اخیستې ده.»

نوموړی له جزیاتو پرته په دې اړه وايي، دغه اندازه پیسې له نړیوالو بنسټونو د اړتیاوو پوره کولو لپاره اخیستل شوې دي.

هغه د دغه پور د ټکتانې اړوند معلومات ور نه کړل، خو ویې ویل، افغانستان مکلف دی چې یاد پور د ۲۰۲٦ کال تر جون میاشتې ورکړي.

نوموړي زیاته کړه، افغان حکومت په ټولیز ډول د نړیوالو هېوادونو او بنسټونو یو نیم میلیارد ډالر پوروړی دی او د یادو پورونو ورکړه اسانه ده؛ ځکه ډېری یې ټکتانه نه لري.

د اقتصادي چارو پوهان په دې اند دي چې د پروژو د تطبیق لپاره له نړیوالو موسسو د پور اخیستل د اندېښنې وړ نه دي؛ خو په ټولو چارو کې باید روڼتیا وي.

د چارو پوهان په بودیجه کې کسر د اندېښنې وړ گڼي او وايي، په روان او راتلونکو مالي کلونو کې د بودیجې کسر د مخنیوي لپاره باید له بېځایه لگښتونو ډډه وشي.

د سیاسي چارو شنونکی او د کابل پوهنتون اقتصاد پوهنځي استاد سیف الدین سیحون پژواک ته ویلي، د پروژو د تطبیق لپاره د پورونو اخیستل د اندېښنې وړ نه دي او ډېری هېوادونه د خپلو پروگرامونو تطبیق لپاره دغه کار تر سره کوي.

هغه زیاتوي: «غالباً هغه هېوادونه چې د پور بېرته ورکړې توان نه لري، پورونه یې بښل کېږي.»

نوموړي په بودیجه کې کسر د اندېښنې وړ بولي او زیاته یې کړه، د ډېرو امتیازونو ورکړه، د قیمتي فرنېچرونو پېر، تجمل پرستي، د قصرونو رنگ، د بې گټو پروژو ډېر لگښتونه، سفرونه او غیر ضروري ناستې د بودیجې د کسر ستونزې دي.

سیحون زیاته کړه، د دې ترڅنگ چې په یادو برخو کې د لگښتونو کمول تر یوې اندازې د بودیجې کسر مخه نیسي، زیاته کړه، دولت باید د مالیاتو اخیستو، د گټه لرونکو اسنادو پلور، د شتمنیو پلور او نورو څخه خپلې مالي سرچینې تامین کړي.

د هغه په خبره، د بودیجې کسر د حل بله لار له مرکزي بانکه، ان له خلکو څخه د پور اخیستل دي، خو په هغه صورت کې چې د هېواد له دننه د پور اخیستل مساعد نه وي، دولت کولای شي له نړیوال بانک، نړیوالو بنسټونو او هېوادونو پور واخلي.

سیحون د دولت د دخل او خرڅ پر متناسبوالي په ټینگار وویل، دولت باید مالي سرچینې په سم ډول مدیریت کړي او لگښتونه یې عوایدو ته په کتو تنظیم کړي او د دې ترڅنگ باید د عوایدو څارنه وکړي او د چور مخه ونیسي.

په ورته وخت کې په کابل ښار کې د یوه خصوصي پوهنتون د اقتصاد پوهنځي استاد قیس محمدي که څه هم له نړیوالو معتبرو هېوادونو او بنسټونو د پور اخیستل د اندېښنې وړ نه بولي؛ خو له مالیې وزارت غواړي چې د دغو پورونو د بیا ورکړې لپاره جامع او منظم پروگرامونه جوړ کړي، څو دغه پورونه پر ټاکلي وخت بېرته ورکړل شي.

د اقتصادي چارو دغه پوه د نړیوالو پورونو په پرتله د داخلي پورونو اخیستل مناسب بولي او وايي، د داخلي پورونو په تر لاسه کولو سره له یوې خوا د ټکتانې له لارې له داخلي بانکونو سره مرسته کېږي او له بلې خوا راکت یا ولاړې پیسې په داخلي بانکونو کې دوران کوي.

نوموړی وايي، د افغان دولت په بودیجه کې کسر نوې موضوع نه ده، بلکې مخکې هم موجوده وه.

هغه زیاته کړه: «د افغانستان پراختیایي بودیجه د تمویلوونکو هېوادونو لخوا کنټرولېږي او د بودیجې کسر به هم د نړیوالو مرستو له لارې رفعه شي.»

نوموړي د عایداتو ټولولو په بېلابېلو برخو کې د فساد پر موجودیت نیوکه کوي او وايي، اداري فساد، د قیمتي موټرو پېر، د تېلو بې مخینه لگښتونه او نور غیر ضروري مصارف د بودیجې په کسر کې رول لري.

محمدي وویل، د ښاروالیو، گمرکونو او هېواد کې د نورو عایداتي سرچینو عایدات د فساد د موجودیت له امله حیف و میل کېږي، چې باید مخه یې ونیول شي.

د اقتصادي چارو دغه پوه د دې په روښانولو چې په حکومت کې سیستماتیک فساد ریښې غځولې، وویل، له جدي قانوني چلند پرته د یادو ستونزو د حل بله هېڅ لار نشته.

د هغه په باور، د بودیجې کسر د رفعه کولو لپاره اړتیا ده چې اضافي لگښتونه کم شي او اقتصادي فعالیتونه تر سره شي.

## مصالحې شورا: هڅه کوو چې له شته طرحو یو واحد نظر رامنځته کړو

د ملي مصالحې عالي شورا وايي، د ترکیې غونډې لپاره د جمهور رییس طرحه هم دوی ته رسېدلې ده، خو د دغې شورا ویاند فریدون خوځون ویلي چې لا هم د ترکیې غونډې ته د یوې واحدې او هر اړخیزې طرحې په جوړولو کار روان دی.

خوځون زیاتوي: «موږ هڅه کوو چې یوه طرحه وړاندې شي، په کومه ناسته کې چې پرون وشوه، پر همدې موضوع بحث وشو، د جمهور رییس د طرحې په گډون د حزب اسلامي او نورو مخکښو جهتونو له لوري موږ ته طرحې راغلې، موږ په همدې هڅو کې یو چې له دې طرحو یو واحد نظر رامنځته کړو.»

خوځون د بېلابېلو طرحو د توحید لپاره په دې اړه د یوې ۱۵ کسیزې کمېټې د جوړولو خبره هم کوي، چې په خبره یې، مشري یې محمد یونس قانوني کوي او د ملي امنیت سلاکار حمدالله محب، د بهرنیو چارو وزیر محمد حنیف اتمر، د مصالحې عالي شورا دواړه مرستیالان او د سولې مرکچي پلاوي رییس هم غړي دي.



دا په داسې حال کې ده، چې رویټرز خبري اژانس لیکلي، د ترکیې غونډې ته د جمهور رییس محمد اشرف غني له لوري یوه طرحه برابره شوې، چې نوموړي د دغې طرحې موارد د افغانستان د سولې په بهیر کې له ټولو مرسته کوونکو هېوادونو سره هم شریک کړي دي.


رویټرز د ولسمشر غني د دغې طرحې په اړه د یو سند له مخې لیکلي، چې دا طرحه په درېیو پړاوونو کې وړاندیز شوې ده. لومړی د محمد اشرف غني د واک ختمېدو لپاره اجماع رامنځته کول، سیاسي جوړجاړی او د طالبانو له لوري د نړیوالو تر څارنې لاندې اوربند منل. په دویم پړاو کې بیا د سولې حکومت رامنځته کول او د نوي سیاسي سیستم جوړول شامل دي او په درېیمه مرحله کې بیا د اساسي قانون نوی چوکاټ جوړول او د کډوالو ادغام او بېرته راستنېدل شامل دي.

په ورته وخت کې د ملي مصالحې عالي شورا رییس عبدالله عبدالله پر خپله تویټرپاڼه لیکلي چې په افغانستان کې یې د امریکا سفارت له شارژدافیر سره کتلي او د افغانستان د سولې بهیر، د دوحې د خبرو او ترکیې ناستې په اړه یې سره خبرې کړې دي.

## ولسي جرگه: حکومت دې ژر تر ژره په ادارو کې سرپرستي پای ته ورسوي

ولسي جرگه په وزارتونو کې د سرپرستیو پر دوام نیوکه کوي او له حکومته غواړي چې نوي کاندید وزیران ور وپېژني. وکیلان پر حکومت تور لگوي، چې په ځینو وزارتونو کې یې فاسد کسان سرپرستان ټاکلي، چې د ځان لپاره کار کوي او جرگې ته ځواب ویونکي نه دي. د دغې جرگې رییس میر رحمان رحماني د جرگې د تېرې ورځې په عمومي غونډه کې وویل، د سرپرستۍ دوام په وزارتونو کې د فساد لامل شوی دی.

رحماني زیاته کړه: «سرپرستۍ د فساد ډېروالي ته زمینه برابره کړې او شفافیت او ځواب ویلو ته یې زیان رسولی دی، په ټینگار سره له حکومته غواړو چې د سرپرستۍ فرهنگ ختم او نوي نوماند وزیران جرگې ته ور وپېژني.»



د جرگې ځینې نور غړي وايي چې په وزارتونو کې فساد شته، خو سرپرستان جرگې ته ځواب ویونکي نه‌دي. د جرگې غړي عبدالولي نیازي وویل: «کوم وزیر چې له دې ځایه رایه اخلي، حکومت هغه پنځه شپږ میاشتې پر ځای نه پرېږدي او بیا هغه کسان چې په فساد ککړ دي، د سرپرستانو په توگه ټاکي چې ملي شورا ته هم ځواب ویونکي نه وي. هیله‌مند یم چې د حکومت د خپل‌سریو مخه ونیول شي.»

د جرگې یوه بله غړې شفیقه سخا یولچي بیا وايي: «له دې ځایه غړ پورته کوم چې په وزارتونو کې دې سرپرستي ختمه شي، ځکه دوی ځواب ویونکي نه دي او د مسوولیت احساس هم نه‌کوي. وزارتونه په بشپړه توگه گډوډ شوي. مسلکي خلک نه‌شته او بودجه د چور او تالان په حال کې ده.»

دا په داسې حال کې ده چې مخکې له دې د مالیې د وزیر په گډون ځینو وزیرانو؛ لکه د کورنیو چارو، دفاع او عامې روغتیا او پوهنې وزیرانو له جرگې د باور رایې اخیستې وې، خو ځینې یې د جمهور رییس له‌خوا له دندو لېرې کړای شول او یا یې په خپله له دندو لاس واخیست او د میاشتو په تېرېدوسره دغه وزارتونه د سرپرستانو له‌خوا اداره کېږي.

د ولسي جرگې غړو بیا بیا له جمهوري ریاسته غوښتې، چې نوي نوماند وزیران دې ور وپېژني، خو حکومت‌یې پر وړاندې روښانه ځواب نه‌دی ویلی. حکومت د ولسي جرگې تازه غوښتنې ته هم ځواب نه دی ورکړی.

# ایا طالبان به امریکایانو ته د دوحې تړون نور هم تمدید کړي؟

نورمدین بلخېل

طالبانو څه د پاسه دیارلس میاشتې مخکې له امریکا سره د دوحې تړون لاسلیک کړ، د تړون یوه مهمه برخه دا وه چې باید امریکایان خپل ټول عسکر د ۲۰۲۱ کال د مې تر لومړۍ پورې له افغان خاورې وباسي، خو کله چې په امریکا کې د جو بایډن اداره را منځته شوه، نو ورسره د دوحې تړون د لوري بدلېدو لپاره یوه بانه پیدا شوه، هغه دا چې امریکایان به د مې تر لومړۍ له افغانستانه ونه وځي، چې دا به پرته له شکه د دوحې تړون یو ډول نقض هم وي.
اوس دلته درې خبرې دي: لومړۍ دا چې باید امریکایي ځواکونه د مې په لومړۍ نېټه ووځي، که چېرته امریکایي عسکر په یاده نېټه ووځي، نو طبیعي ده چې د سولې خبرو جریان پاتې دی، نو تر هغې به د افغان دولت او طالبانو تر منځ جګړه روانه وي څو چې د افغان دولت او طالبانو تر منځ یو سیاسي توافق را منځته کیږي، چې ممکن په دغه موده کې دغه وضعیت د افغان دولت د کمزورۍ باعث شي او طالبان به نورې ځمکې هم له افغان دولت څخه ونیسي. دویم دا چې امریکایان به له طالبانو سره په همغږۍ د مې له لومړۍ نېټې وروسته هم په افغان خاوره کې پاتې شي او په مقابل کې به امریکایان طالبانو ته یو څه هم ورکړي، خو اوس پوښتنه دا ده چې ایا طالبان به د امریکا دا غوښتنه ومني او که څنګه؟
زما په نظر طالبان به هیڅکله دا غوښتنه او د تړون تمدید ونه مني، دا ځکه چې طالبان فکر کوي امریکا دا شل کاله په افغانستان کې د خپل ځان د پاتې کیدو او د خپلو ګټو لپاره پلمې پیدا کړې دي، نو دوی ته که دا تړون نور هم تمدید کړي، بیا به هم د تمدید له ختم وروسته امریکایان د ځان د ګټو او دلته د پاتې کیدو لپاره بله پلمه جوړوي چې دا به بیا هم د یو بل جنګ سبب وي، ځکه له نن شل کاله مخکې امریکایانو په دې دلیل چې اسامه بن لادن د نیویارک او واشنګټن په تروریستي پېښو کې لاس لري او سره د دې چې په دې برخه کې یې هیڅ ثبوت هم وړاندې نه کړ، پر طالبانو حمله وکړه او د طالبانو نظام یې نسکور کړ، نو نن هم دوی د ډول ډول پلمو په لټه کې دي او غواړي چې خپل پوځي حضور ته په افغانستان کې دلایل پیدا کړي. طالبان فکر کوي چې د دوحې تړون پر اساس که د امریکایانو د پاتې کیدو خبره تمدیدېږي، نو دا په واقعیت کې د اشغال تمدید دی چې ممکن ځینې طالب مخالفه خلک یې د تبلیغ په حیث هم وکاروي او ووایي چې طالبانو اوس اشغال هم تمدید کړ. بله کیسه دا ده چې طالبانو له امریکا سره تړون د څوارلسو میاشتو په موده لاسلیک کړی و، چې دوی به وځي، نو کله که امریکا په څوارلسو میاشتو کې د تړون د تطبیق او د اسلامي نظام د جوړېدو د منلو لپاره افغان دولت خبرو ته د کېنولو ظرفیت نه شي پیدا کولی، نو په نور تمدید سره هم دا کار نه شي کیدلای.
دریم دا چې فرضاً امریکایي عسکر د مې له لومړۍ نېټې وروسته هم په افغانستان کې پاتې کیږي، نو طبیعي ده چې د طالبانو له عکس العمل سره مخ کیږي او طالبانو هم ویلي دي چې دوی به د امریکایي عسکرو په خلاف جګړه پیل کړي او مسوولیت به یې هم د امریکایانو په غاړه وي. که چېرته دریمه خبره عملي کیږي، نو دا به هم د امریکایانو، افغان دولت، افغان ملت او طالبانو ټولو لپاره په زیان وي، ځکه چې له دې وروسته یو خونړۍ جنګ پیل کیږي کوم چې ټولې خواوې به پکې تلفات ویني، نه دا چې په دې کې به ځاني او مالي تلفات زیات وي، بلکې ممکن د سولې شته فرصت له منځه لاړ شي، ځکه زما په نظر نور نو ممکن طالبان خپل مذاکراتي پلاوي ته دا واک او صلاحیت ور نه کړي، چې له امریکا او افغان دولت سره د سولې خبرې مخته یوسي، طالبان به جګړې ته زور ورکړي او دغه تاوتریخوالی به نور هم نهایي اوج ته ورسیږي.
په نتیجه کې ویلای شو چې باید امریکا د دوحې تړون پلی کړي او که ترې سرغړونه وکړي، نو نه یوازې دا چې طالبانو او افغانانو ته ملامت کیږي، بلکې په نړیواله کچه خپل باور ته زیان اړوي. په دې صورت کې به روس او چین هم په کرار نه کېني او دوی به په افغانستان کې د امریکا وجود د خپلو سیاسي او اقتصادي ګټو لپاره ګواښ وبولي. زما په نظر، طالبان هم اوس دې ته سترګې په لار دي چې امریکایان کومه لاره غوره کوي، اوس تازه په رسنیو کې راپورونه ورکړل شوي چې طالبان د پسرلي د عملیاتو لپاره پر تیاري بوخت دي او افغان دولت هم ځان تیار بولي، نو هغه جنګ چې په تېرو دوو کلونو کې نسبتاً یو څه لږ شوی و، که بیا په شدت سره پیلېږي، نو دا به د افغانانو یوه بله بدبختي وي.
بل دا خبره ده چې افغان دولت او امریکا وایي چې طالبان له القاعدې سره اړیکې لري، نو د دوحې په تړون کې خو د طالبانو او القاعدې د اړیکو د پرېکون خبره نه ده مطرح شوې، په تړون کې صرف ویل شوي چې طالبان به له افغان خاورې څخه تروریستي ډلو ته د امریکا او د متحدینو پر ضد د فعالیت اجازه نه ورکوي؛ خو بیا هم طالبان وایي چې دوی له القاعدې سره منظمې اړیکې نه لري.
په پای کې وایم چې باید امریکایانو پر افغان ولسمشر زور راوړی وای، چې اسلامي نظام ته یې غاړه ایښې وای، څو دغه معامله دومره اوږده شوې نه وای، ځکه دلته هره ورځ په لسګونو افغانان قتلیږي او هره ورځ بېګناه ښځې، ماشومان او نور تر خاورو لاندې کیږي. زما په نظر یوازې له طالبانو څخه د اوربند په غوښتنه دا مشکل نه حلیږي، ځکه طالبان حالت ته ګوري چې څو افغان ولسمشر یو اسلامي نظام ته غاړه کیږدي او بیا به یو تلپاتې اوربند نافذ شي.

# له ګواښونو او فشارونو سره همهاله؛

## په دوحه کې د ترکیې د کنفرانس پر اجنډا او اصولو بحثونه روان دي



د ترکیې تر کنفرانس مخکې په دوحه کې د دغه کنفرانس پر موضوعاتو او اجنډا خبرې روانې دي او هڅه کېږي، چې دغه غونډه په افغانستان کې د روانې جګړې د ختمېدو سبب شي.
بلخوا نړیوالې رسنۍ وایي، چې امریکا پر ولسمشر غني فشار ډېر کړی، څو له طالبانو سره یوې هوکړې ته ورسېږي او په دې توګه د بهرنیو سرتېرو وتلو ته زمینه برابره کړي. امریکایي رسنۍ وایي، له همدې امله امریکا ټینګار کوي چې د ترکیې په هوکړه کې باید ارو مرو دواړه خواوې یوې هوکړې ته سره ورسېږي. د ملي مصالحې عالي شورا بیا تمه لري چې دغه کنفرانس روانه جګړه ختمه کړلی شي.
وروسته له هغه چې د مسکو او ترکیې د غونډو له جوړېدلو راپورونه خپاره شول، په افغانستان کې د سولې لپاره تازه هیلې پیدا شوې. دا ګنګوسې ډېرې شوې چې ګواکې دغه کنفرانسونه به د دوحې په ټپه ولاړو مذاکراتو کې تحرک رامنځ ته کړي. د مسکو غونډه کې ټولو لورو په افغانستان کې د جګړې پر پای ته رسېدو ټینګار وکړ او اوس ورو ورو د استانبول د غونډې نېټه هم نږدې کېږي. افغان چارواکي او سیاسي څېرې دغه غونډه د افغانستان لپاره برخلیک ټاکونکې بولي.
سرچینې وایي چې له څو ورځو راهیسې په دوحه کې د استانبول د کنفرانس په اړه شپږ اړخیزې غونډې کېږي او د دغه کنفرانس پر اجنډا او نورو تیاریو بحث روان دی.
د راپورونو له مخې، په دغو غونډو کې ملګري ملتونه، امریکا، افغان حکومت، د طالبانو استازي، قطري چارواکي او ترکي لوری برخه لري او تر ډېره په دې بحثونه کېږي چې څنګه وکړی شي دواړه خواوې یوې هوکړې ته ورسوي او په افغانستان کې تاوتریخوالي ته د پای ټکی کېږدي. دا چې د دې غونډو په لړ کې د اجنډا په برخه کې کوم نظریات رامنځ ته شوي، په اړه یې معلومات نه دي خپاره شوي. د افغان حکومت د مذاکراتي پلاوي غړې فوزیه کوفي وایي، د بحثونو د محتوا او د دغه کنفرانس د ارزښتونو په اړه بحثونه روان دي. د نوموړې په خبره: «د بحثونو د محتوا په اړه، هغه اصول او ارزښتونه چې په ترکیه کې بحث وربانديې کېږي، دلته له شته هېوادونو سره په همغږۍ په دې اړه تیاری نیول کېږي».
د سولې او سیاسي څېرې بیا پر دې باور دي، چې د ترکیې تر غونډې مخکې په دوحه کې اوسنۍ روانې غونډې او لیدنې کتنې هم مهمې دي او پایلې یې د ترکیې پر غونډه مستقیم اغېز کولی شي. د طالبانو د واکمنۍ پر مهال په پاکستان کې افغان سفیر عبدالسلام ضعیف وایي: «که د دوحې په غونډه کې ټول اړخونه یوې پایلې ته و نه رسېږي، د ترکیې غونډه به بې ګټې او هسې سمبولیکه وي».
نړیوالې رسنۍ بیا وایي چې د امریکا حکومت پر ولسمشر غني فشارونه ډېر کړي دي. سټارز انډ سټرایپز نشریې په یوه مقاله کې ویلي چې بایډن د خپلو سرتېرو ایستلو ته ژمن دی، خو د دغې پرېکړې لپاره باید لومړی زمینه برابره کړي. سرچینه کاږي، له همدې امله د بایډن اداره هڅه کوي پر ولسمشر غني فشارونه ډېر کړي او نوموړی له طالبانو سره د هوکړې رامنځ ته کولو ته مجبور کړي. سرچینه د ولسمشر غني وروستۍ طرحه هم د امریکا د موقت حکومت د طرحې پر وړاندې یوه جوړه شوې طرحه بولي، خو وایي، پایلې به یې د وخت په تېرېدو څرګندې شي.
دلته د ملي مصالحې عالي شورا بیا د سیاسي ګوندونو له لوري د سولې د وړاندیز شوو طرحو پر توحید بوخته ده. د ملي مصالحې عالي شورا غړي او د دې شورا مطبوعاتي مسوولین وایي، د ترکیې کنفرانس کې د ګډون کوونکو کسانو پر نوملړ هم بحثونه روان دي، خو د دغو کسانو شمېر او نومونه تر اوسه نه دي په ډاګه شوي. ملي مصالحې عالي شورا وایي، تمه لري چې د ترکیې په کنفرانس کې ټول اړخونه پر یوه دایمي اوربند سره سلا شي او د روانې جګړې ختمولو ته زمینه برابره شي.

# راپورونه: په اندونیزیا کې د سختو سېلابونو او ځمکې ښویېدنې له کبله د مړو شمېر له ۷۰ کسانو واوښت


اندونیزیایي چارواکو ویلي چې په دغه هېواد کې د سېلابونو د راوتلو او ځمکې ښویېدنې له کبله د مړو شویو کسانو شمېر له ۷۰ واوښت.
د یاد هېواد چارواکي وایي، خطر لا هم نه دی رفع شوی او ژغورونکې ډلې په لسګونو نورو ورکو کسانو پسې ګرځي. له ټاپوګانو جوړ اندونیزیا سختو اورښتونو او ځمکې ښویېدنې دا څو وروستۍ ورځې له سترو ځاني او مالي زیانونو سره مخ کړې دی.
د اندونیزیا د طبیعي پېښو پر وړاندې د مبارزې ملي ادارې چارواکو ویلي، چې د دغه هېواد په څو برخو کې څو پرله‌پسې درانه اورښتونه د سېلابونو د راوتلو لامل شوي او یو ځای یې ځمکه ښویولې ده.
وروسته له هغې چې د اندونیزیا د اډونارا ټاپو په لامینیلي کلي کې پر کورونو له یوې غونډۍ خټې وښویېدې، ژغورونکې ډلې وتوانېدې ۳۸ مړي راوباسي.
د طبیعي پېښو پر وړاندې د مبارزې محلي چارواکو ویلي، لږ تر لږه ۵ کسان ټپیان شوي دي. په اندونیزیا کې د طبیعي پېښو پر وړاندې د مبارزې ملي ادارې ویلي، د دغه هېواد په نورو برخو کې هم سختو سېلابونو لږترلږه ۱۷ کسان مړه کړي او لږترلږه ۴۲ کسان لادرکه دي. د دغې ادارې په وینا، د ۵۵ کسانو مړینه لوړ شمېر دی او ښایي دا شمېر بدل شي.
په ورته مهال د یاد هېواد ولسمشر جوکو ویدیدو په یوه تلوېزیوني وینا کې له خلکو غوښتي، چې د ژغورونکو ډلو لارښوونې تعقیب کړي. هغه ویلي: «د ځان او اندونیزیا د خلکو په استازیتوب د دې پېښې له قربانیانو سره خپله ژوره خواشیني څرګندوم. د هغو کسانو په غم او درد هم پوهېږم چې په دې پېښه کې اغېزمن شوي. له ټولو خلکو غواړم چې په سیمه کې د افسرانو لارښوونې تعقیب کړي، څو د سختو اورښتونو له امله د سېلابونو او ځمکې ښویېدنې په اړه پوهاوی زیات شي.»
په تلوېزیون کې خپاره شوي تصویرونه سختې ورانۍ ښيي. عام خلک وایي، د اوبو اندازه دوو مترو ته رسېدلې او دوی یې نیستۍ ته کېنولي دي. دا یوازې اندونیزیا نه‌ده چې وضعیت سختو سېلابونو او ځمکې ښویېدنې خراب کړی دی. په ختیځ تېمور کې چې د اندونیزیا او استرالیا ترمنځ پروت هېواد دی، ۱٦ کسان مړه شوي دي.
سلګونه کسان له خپلو سیمو وتلو ته اړ شوي او په موقتو کمپونو کې یې اړولي دي. چارواکي وایي، چې زیانمنو سیمو ته غځېدلي سړکونه په خټو پوښلي او دې چارې د ژغورونکو ټیمونو د ور رسېدو مخه ډب کړې ده. چارواکي ویلي، دوی اندېښمن دي چې ښایي په ختیځ تېمور کې هم د مړو او زیانمنو شمېر لوړ شي. په اندونیزیا کې چې له ۱۷ زرو لویو او وړو ټاپوګانو جوړ دی او میلیونونه کسان په لېرو پرتو غرنیو سیمو کې اوسي او هم په نورو شاوخوا لېرې نږدې ټاپو وزمه هېوادونو کې؛ لکه ختیځ تېمور د کال دا وخت موسمي اورښتونه تل د سېلابونو د راوتلو لامل کېږي.

## د کتاب خبرې

# د جاسوسۍ پېښلړ RAW, ISI او د سولې وهم

◉ لیکوالان: اې. اېس دولت، اسددوراني او ادیتیا سېنها
◉ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ


### پنځمه برخه
### حساسې شېبې




دوراني: د ناټو سفیران به هم د سولې په اړه خبرې کوي. ناټو د جګړې سازمان دی.
دولت: زه هم همدا وایم.
دوراني: ناټو د جګړې اتحادیه ده، که جګړه نه وي دوی به خپه وي. د وارسا تړون له منځه تلو وروسته داسې فکر کېده، چې ناټو به هم له منځه لاړه شي، خو ناټو د خپل پاېښت لپاره نور ماموریتونه ځان ته پیدا کړل. په لومړیو کې د ناټو موخه په اروپا کې د سولې ساتل وو، خو وروسته چې د بوسنیا د بحرانونو په کنټرول او د شوروي اتحاد له ځینو دولتونو سره یو ځای د «سولې لپاره ملګرتیا» پروګرام کې ناکامه شوه، اوس ارام ساه اخلي، ځکه اوس یې په افغانستان او نورو ځایونو کې په نه ختمېدونکو جګړو کې ځان ښکېل کړی دی.
دولت: کسینجر په ډېلي کې دا هم و ویل، چې که ناټو په افغانستان کې ناکامه شوه، نو دا به د ناټو پای وي.
دوراني: په جګړه کې ځینې ګټې هم وي، سترګې باید پرې پټې نه کړو.آن په پاکستان کې هم ځینې کسان د جګړې د ګرمېدو وړاندیزونه کوي، موخه یې دا ده چې امریکا په همدې ځای کې ښکېله وي. د دوی دلایل دا دي، چې موږ اقتصادي ګټه کوو او بل د هند پر هیژمونیکه بڼه کنټرول درلودلی شو.
په افغانستان کې طالبان په پام کې ونیسه. ډېری افغان چارواکي غواړي جګړه پای ته ورسوي، خو ځینې یې بیا خراب حالات غواړي، ځکه دوی له ناټو څخه د کال ۵۰۰ میلیونه ډالر ترلاسه کوي.
له جګړې پرته ځینې موخې نشي ترلاسه کېدای. که جګړه نه وای، بنګله‌دېش به هم نه وای. که د کوېټ جګړه نه وای امریکا به هم په کوېټ کې ځان ته ځای نه وای پیدا کړی. پر افغانستان له یرغل پرته په متحدو ایالتونو کې په کورنۍ کچه د سپټمبر ۱۱ پېښې ته سم سیاسي غبرګون ناشونی و.
که په ټوله کې ووایو، جګړه غلط کار دی. خو جګړه د هرې پالیسۍ وسله ده او له جګړې پرته پالیسۍ دربړې او نور دوام نه‌کوي، لکه څرنګه چې کلاوزیویټس ویلي دي، چې رښتینې پالیسي جګړه ده او نورې پالیسۍ هم له جګړې تعقیبېږي.
امریکا له وسلو پرته هېڅ شی هم ډېر نه پلوري. یوازې دوه اونۍ مخکې د متحدو ایالتونو د بهرنیو چارو وزیر یو سیمینار جوړ کړی و. دی دلته د ستراتېژیکو خبرو اترو لپاره راغلی و، که څه هم د پاکستان او امریکا ترمنځ اړیکې ستراتېژیکې نه دي. هغه وویل چې هندیان له موږ څخه ښې ډېرې وسلې اخلي او په دې کار یې موږ خوشاله کېږو. خبرې یې سمې وې او له خبرو یې دا هم معلومه شوه، چې ستاسو (هند) او هغوی (امریکا) اړیکې د څه شي پر اساس دي.
دولت: ولې پاکستان وسلې نه ترې اخلي؟
دوراني: موږ یې د اخېستلو پیسې نه لرو.
دولت: پیسې هم دوی درکوي.
دوراني: آن که موږ F-16 هم ترې وغواړو، دوی راته وایي چې تر هغو مرستې نشته، چې حقانیان مو له منځه نه وي وړي، چې دا کار هم د ځان وژنه ده.
دولت: رښتیا ده چې بنګله‌دېش د ۱۹۷۱ کال له جګړې پرته نشوای رامنځته کېدای، خو له ۷۱ کال را پدېخوا ډېر څه پېښ شوي دي.
دوراني: هو.
دولت: نن جګړه ډېر جدي شی دی.
سېنها: د منوهر پاریکار (چې بیا وروسته د دفاع وزیر شو) د هغې بیانیې په اړه چې د NFU پالیسۍ د نه کارونې په اړه یې وړاندې کړه څه نظر لرې؟
دوراني: منمه چې دا خبرې دې وکړې. ښه به دا وي چې د عادي خلکو خبرې هم واورېدل شي، ځکه چې متخصصین ډېر شیان نه مني. زموږ هر وخت پر دې مناظره وي، چې دا څه مانا لري.
دولت: مانا یې نشته.
دوراني: زه یې منم، او دې شي اغېزمن کړی هم یم، چې ملکي وګړي تر پوځیانو ښه پرې پوهېږي. هر وخت هم دوکتورین واقعي دوکتورین نه وي؛ د هستوي وسلو په اړه دوی ببخې کم دي. دلیل یې ساده دی: د هستوي جګړې لومړنی اصل دوګانګي ده. د بېلګې په توګه NFU (No first use) او NNFU (No no first use) په پام کې ونیسه. هند باید نورو ته د خپل غیرهستوي تفوق او ښه‌والي د ور څرګندولو لپاره NFU پالیسي اعلان کړي. خو که پاکستان دا پالیسي اعلان کړي، نه یوازې دا چې د خپل پیاوړي ګاونډي د وېرولو لپاره به کومه ګټه ورته ونه لري، بلکې خپلو خلکو ته به یې هم غلط پیغام ورکړی وي.
پام دې دی، چې هستوي وسلې اساساً سیاسي او رواني وسلې دي.
دولت: د پاریکار بیانیه یوازې سیاسي بیانیه وه. **دوام لري...**

# ډېرک والکاټ

شفیق امیرزی



ډېرک والکاټ افریقایي الاصله لیکوال، کره کتونکی، تیوریسن، ننداره لیکوال او نقاش و. هغه په ۱۹۳۰ کال کې نړۍ ته راغلی و او لوړې زده کړې یې د ژبې او ادبیاتو په برخه کې کړې وې. نوموړي د انګلیسي او فرانسوي ژبو په هنر او شعر کې خپلې زده کړې بشپړې کړې دي. هغه پر نقاشۍ مین و. په دې منځ کې یې تر ټولو ډېره له اروپایي نقاشانو سره مینه وه. د سزان، ګوګن او ون ګوک اثار یې خوښېدل.
ډېرک په خپل ادبي ژوند کې ډېر اثار پنځولي دي، شاعري یې کړې ده، لیکوالي یې کړې، پر ادبي مسایلو یې نقد کړی دی او د ادبي تیورۍ په برخه کې یې لیکنې او نظریې وړاندې کړې دي. ډېرک آلتون والکاټ په ۱۹۳۰ کال کې د سنت لوسیا په کاستریس ښار کې زیږېدلی دی. پلار یې د حکومت کارکوونکی او مور یې ښوونکې وه. دی لا یو کلن و چې پلار یې ومړ. هغه مهال سنت لوسیا د برېټانیا د امپراتورۍ مستعمره وه. نو له همدې امله دی اړ و چې د برېټانیا د مستعمرو په ښوونځیو کې زده کړې وکړي. دی دلته له انګلیسي شعرونو سره بلد شو. والکاټ د شعر ویل له ماشومتوبه پیل کړي او په څوارلس کلنۍ کې یې شعرونه لیکل او په اتلس کلنۍ کې یې خپله لومړنۍ ټولګه چاپ کړه.
هغه یې لومړنی شعر په ۱۴ کلنۍ کې لیکلی و. لومړنۍ ننداره یې په ۱٦ کلنۍ کې ولیکله. له همدې سره جوخت یې د خپلو شعرونو لومړنۍ ټولګه چاپ کړه. دی لا شل کلن و چې پخپله یې د تیاتر لومړنۍ کمپنۍ جوړه کړه. په ۱۹۵۰ کال کې یې د کریستوف د هنر په نامه یوه ننداره ولیکله. دا د یوه غلام کیسه ده چې په ۱۹مه پېړۍ کې ژوند کوي او د وخت په تېرېدو د هایتي تر پادشاهۍ رسېږي. دا ننداره د دې سبب شوه چې ډېرک د یوه تحصیلي بورس ګټونکی شي. هغه د انګلیسي، فرانسوي او لاتین ژبې په برخه کې د زده کړو لپاره بورسیه تر لاسه کړه او له ۱۹۵۰ تر ۱۹۵۳ کال پورې یې ادبیات ولوستل. همدې زده کړې سره مینې هغه تر امریکا را ورساوه او تر ۱۹۵۷ کال پورې یې هلته هم زده کړې وکړې.
ډېرک د ننداړو لیکلو ته ادامه ورکړه. هغه په همدې لړ کې د غره د خیال په نامه یوه ننداره ولیکله چې ابي جایزه یې وګټله. په دې کیسه کې د یوه بېوزله هلک خوبونه او خیالونه انځور شوي دي. دې هلک به سکاره پلورل او په سختۍ یې ژوند تېراوه. نقادان په دې باور دي چې د وېلکټ دا اثر د افکا او هیسه تر اغېز لاندې لیکل شوی دی. په دې ننداره کې لیکوال ټولنې ته له انتقادي زاویې ګوري، نقادان په دې باور دي چې د هغه لیدلوری یو اړخیز نه؛ بلکې متعدل دی او د ټولنې حقیقتونه یې رابرسېره کړي دي. بله ننداره یې چې ډېره مشهوره شوه، پانتومیم نومېده. په ۱۹۷۸ کال کې یې لیکلې وه او ښه شهرت یې پیدا کړ. په دې ننداره کې یې بیا هم ټولنې ته له انتقادي زاویې کتلي دي او په هغه کې یې ستونزې په نښه کړې او غندلې دي.
ډېرک همداسې نندارې لیکلې، خو تر څنګ یې هڅه کوله چې خپله هنري خوا پیاوړې کړي. ورو ورو یې په خپلو نندارو کې موسیقي ته هم ځای ورکړ. دودیزه نڅا یې هم پکې ځای پر ځای کړه. په دې مانا چې موسیقي او نڅا د پلاټ برخه شوه. په همدې برخه کې یې تجربې تر سره کړې او موزیکالې نندارې به یې تر سره کولې. د وېلکټ د اثارو اصلي موضوع د هویت پلټنه ده. له همغه لومړۍ مرحلې یې په اثارو کې د اوسني فرهنګ او پخواني دود ترمنځ ټکر ته متوجه کېدلی شو. له همدې پیله یې ژوند په دوو مرحلو کې و، یو پخوانی دود او بل اوسنی فرهنګ چې په چټکۍ د پراختیا په حال کې دی. ده په خپلو اثارو کې همدا دوه انځورونه په ډېر مهارت را اخیستي دي.
په اثارو او ډرامو کې د وېلکټ نیوکه هېڅ وخت مغرضانه نه وي. په دې مانا چې له عقدو ډکه نیوکه نه کوي، بلکې موخه یې د ستونزو ختمول او اصلاح راوستل وي. هغه په بېلو ان ډېرو ترخو ټولنیزو، تاریخي یا فرهنګي پېښو کې خپله شوخي ساتي. هغه د خبرو ځانګړې بڼه لري چې له ټوکو ټکالو او خندنیو سره مله ده. هغه د تاریخ په برخه کې ژوره مطالعه لرله. له همدې امله په خپلو اثارو کې له هغو شخصیتونو سره علاقه لري چې دوی د نړۍ په کشف او پلټنه پسې دي.
دی وایي چې د ټولو کرکټرونو ترمنځ یې ابینسون کروزویه ډېر ورته ځانګړې جذابیت لري. دا کرکټر ډېرک ته یو رښتینی الګو دی. دا کرکټر دومره ورته مهم و چې په ۱۹٦۵ کال کې یې د کروزویه په نامه یو اوږد شعر هم ولیک. وروسته یې بیا په بېلو نظمونو او پنځونو کې د دې کرکټر نور اړخونه هم روښانه کړي دي. هغه د لرغوني یونان له ادبیاتو سره هم مینه لرله. د هومر اثار یې لوستل، هغه نړۍ ورته حیرانوونکې وه چې هومر په خپلو اثارو کې جوړه کړې وه. ډېرک د هومر له اثارو سره مینه لرله، خو دا باید په یاد ولرو چې د هومر د کیسه لیکنې سبک د ډېرک له پنځونو او سبک سره توپیر لري. هغه خپله ځانګړې شوخت طبعي لري چې په اثارو کې یې لیدلی شو. د وېلکټ په اثارو کې یوه بل مهم شي ته هم متوجه کېدلی شو، هغه دا دي چې د یوې موضوع څو اړخونو ته ګوري. دا په دې مانا ده چې هغه پراخه مطالعه لرله او د مسایلو ټول اړخونه یې په خپلو پنځونو کې سپړلي دي. هغه به له ادبیاتو او شعر نیولې، تر فلسفې، تاریخ، نندارې، هنر او نور طبعي علوم مطالعه کول. د هغه شعرونه او نندارې یو ډول پیغام لېږدوي، ارزښت او اهمیت د دواړو یوه اندازه دی، خو شعرونه یې په نړۍ کې خورا مشهور دي. بلخوا یې بیا نندارې دومره مشهورې نه دي، کره کتونکي بیا په دې باور دي چې د ښکلو منظرکشیو او د کلماتو مناسبه کارونه د دې سبب شوې، چې شعر یې مشهور او مینه‌وال یې ډېر شي.
والکاټ په خپلو اثارو کې له تاریخي پېښو هم استفاده کوي، خو د دې کار لپاره ځان ته یوه ځانګړې لار او تعریف لري. هغه تاریخ د اوس زماني په شرایطو یا لوښي کې درته را اخلي. دی داسې درته ښیي چې دا پخوانی تاریخ په اوس وخت کې ولوله او کېدای شي هره شېبه هر څه بدل شي. هغه په خپلو اثارو کې له خامو او مستندو موادو استفاده کوي او هڅه یې دا ده چې تاریخي پېښې ژوندۍ وساتي او تر څنګ یې انتقادي او یا هم د ستاینې پیغام له ځان سره ولري. هغه وایي چې تاریخي پېښې هم کیسه ده او هم یې یادونه په ټولنو کې د بدلون سبب ګرځي. هغه وایي، تاریخ زموږ روایتګر نه دی؛ بلکې موږ یو چې تاریخ روایت کوو. هغه وایي یو هنرمند انسان باید خلاق وي او باید کوښښ وکړي چې په تاریخ کې خپل ځای او ځایګی پیدا کړي. دی په دې باور دی چې کروزویه یو خلاق انسان و، د ده د اثارو غوره کرکټر و او کله کله هغه ان د ادبیاتو په برخه کې د خلاقیت لپاره د کروزویه نوم په مستعاره توګه اخلي. دی وایي، خلاقیت دا نه دی چې پخواني دودونه رد کړو، یا پخواني اثار وغندو؛ بلکې د پخوانیو دودونو مطالعه، په اوس کې د تېرو یادونو کارول او په مناسب ځای کې د هغو یادول پخپله خلاقیت دی.
هغه په یوه ځای کې وایي: «اړینه نه ده چې تېرو او تاریخي توکو ته نوي نومونه ورکړو، یا تاریخي او پخواني نومونه د نوو توکو لپاره وکاروو. پر ځای یې باید په پوره باور او عقیده له تېرو شیانو نوې ګټه واخلو. تېر شیان د اوس عصر د ګټې لپاره وکاروو.» وېلکټ پر جادویي ریالېزم مین دی. د هغه په اثارو کې له دې هنري سبک سره د ده مینه له ورایه ښکاري. د هغه په ډرامو، نندارو او راډیویي صحنو کې د جادویي ریالېزم څرک له ورایه ښکاري. وېلکټ په خپلو اثارو کې تقریباً د تورپوستو له ټولو اثارو استفاده کړې ده. له موسیقۍ، نڅا، سندرو او غړونو نیولې د غم او ښادۍ تر دودونو ټول یې په خپلو اثارو کې ځای پر ځای کړي دي.
د والکاټ تر ټولو مهمه ځانګړنه دا وه چې پخوانۍ افسانې یې را ژوندۍ کولې. نوموړي به پخوانۍ افسانې په نوې بڼه په خپلو اثارو کې راوړلې او په زړه پورې اړخونه به یې ورکول. ده د اومروس په نوم یو مشهور کتاب په ۱۹۹۰ کال کې ولیک. د دې کتاب نوم یې د یونان د مشهور شاعر هومر له نامه اخیستی و. دا کتاب د دې سبب شو چې دی د نوبل جایزه وګټي. دا کتاب داسې لیکل شوی چې کرکټرونه یې د پخواني یونان د هومر له کیسو او شعرونو اخیستل شوي دي. په اصل کې دا یو اوږد شعر دی چې اتلان یې د یوناني خدایانو پر ځای د کارایب جزیرې ماهي نیوونکي او نور ساده خلک دي. د دې کتاب د بریا ستر لامل دا و، چې یوه پخواني تاریخي افسانه په نوې بڼه وړاندې شوې وه، تاریخي پېښې او طبیعي انځورونه په ډېر مهارت وړاندې شوي دي. همدا راز د خپل اصلي ټاټوبي د وګړو څو اړخیز هویت هم رابرسېره کوي، ځکه دوی د بېلو فرهنګونو تر اغېز لاندې و، نو ځکه یې فرهنګ او هویت څو اړخیز و، چې لیکوال یې هم په وړاندې کولو کې پوره بریالی دی.
د والکاټ د شعرونو بله ځانګړنه دا ده چې د بیان یو خاص سبک، موسیقي لرونکی لحن او په بیان کې د پام وړ انسجام لري. ده د انګلیسي لرغوني ادبیات لوستي وو، نو ځکه یې ډېرې استعارې، اشارې او تلمیحات د انګلیسي ادبیاتو په څېر دي او د همدې فنونو په استعمال یې د کارائیب د خلکو ژوند انځور کړی دی.
والکاټ په ۱۹۹۲ کال کې د نوبل جایزې ګټونکی شو. کله چې والکاټ د نوبل جایزې د ګټلو خبر واورېد، حیران شو. ویل یې زه؟ دا زه د نوبل ګټونکی شوم؟ خو کله چې پوه شو خبر دقیق دی، نو یې وویل، دا ډېره ښه ده، ډېره ښه ده، په ظاهري توګه نو له دې وروسته یو شتمن کس شوم. ناقدان په دې باور دي چې نوبل ځکه والکاټ ته جایزه ورکړه چې هغه پر عامو وګړو ډېر اغېز درلود. نوموړی په دې بریالی شو چې د انساني تاریخ مهمې پېښې تر نوي یا اوسني نسله ورسوي او دوی ته ثابته کړي چې دا هر څه او د ټولنو پرمختګونه له ډېرو لوړو ژورو تېر شوي دي. همدا راز یې په خپلو کیسو کې د امریکا د لومړي ځل کشف مسئلې او دغه راز د استعمارګرو قدرتونو له ظلمونو او ناروااوو هم پرده پورته کړې ده. همدا مسایل ټول سره یو ځای شول او د دې سبب شول چې والکاټ د نوبل جایزه وګټي. یوازې نوبل نه، والکاټ د مشهور نقدا ټي ایس ایلټ په نامه جوړه شوې جایزه هم ګټلې ده. هغه په ۲۰۱۱ کال کې دغه جایزه له نورو شاعرانو سره د رقابت پر مهال وګټله. نوموړي په دې سیالۍ کې دوه شعرونه لوستي وو چې مخاطب یې د امریکا د هغه وخت ولسمشر بارک اوباما و.
بالاخره دغه افریقایي الاصله امریکایي لیکوال د ډېرو پنځونو او جایزو تر ګټلو وروسته د ۲۰۱۷ کال د مارچ په ۱۷مه د ۸۷ کلونو په عمر ومړ. له نوموړي شل شعري مجموعې او شاوخوا ۳۰ نندارې په میراث پاتې دي. مشهور اثر یې هم اومروس دی.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,٤ |
| € | ۹۰,۷ |
| Rp. | ٤۹٥ |
| ₹ | ۱۰٦٥ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۱۰٥,۵ |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

مسیر ورځپاڼه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
ایډېټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
ګرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202500100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

همیانی

# اغېزمن فکر کول

ژباړه: امان الله حنیفي

زما پلار په جورج تاون کې په سخت بد اقتصادي حالت کې لوی شوی. هغه به هر وخت نورو کسانو ته کار پیدا کاوه. هغه په نوې ځوانۍ کې د هغه ښار یوازې د دریو شتمنو کورنیو لپاره کار کاوه. هغه هماغه کورنیو ته د کار کولو پر مهال له داسې شیزونو سره مخ شوی و، چې د هغه ژوند یې بدل کړی و. د هغو دریو کورنیو غړو زموږ له کورنۍ او په هغه ښار کې چې څومره خلکو ژوند کاوه، له ټولو سره یې کاملاً په فکري لحاظ توپیر درلود. هغه څه چې د دې دریو کورنیو تر منځ شریک وو، یوازې همدا د فکر کولو طرز و چې بېخي یو بل ته ورته و. هماغه مهال مې چې پلار ښوونځي ته تلو، پوه شو چې د بریالیو او ناکامو کسانو تر منځ یوازینی توپیر په فکر کولو کې دی. همدا د دې لامل شوه چې پلار مې ډېر په بریالیو کسانو پسې وګرځي، هغه کتابونه ولولي چې له هغه سره په مثبت فکر کولو کې مرسته کولای شي او هغه کارونه یې تر سره کول چې له اغېزمن فکر کولو سره یې مرسته کوله. هغه خپلې زده کړې او تجربې له موږ سره شریکولې، هغه غوښتل چې موږ ښه متفکران شو او له همدې وجې یې موږ ډېر وخت له ننګونو سره هم مخ کولو.

بالاخره هماغه وو چې په دې اړه مې خپلو او د پلار هڅو نتیجه ورکړه او زه پر دې بریالی شوم، چې د خپل ژوند په اړه په ښه ډول فکر وکړم او هغه لار انتخاب کړم چې پر مټ یې اسانه خپلو موخو ته رسېدلی شم. زه دا منم چې بریا ته رسېدل یوڅه سخت دي، خو غیر ممکن نه دي او همدارنګه په ښه ډول له فکر کولو پرته بریا لاسته راوړل هم ناشوني دي. په همدې اړه د فکر کولو له کتاب څخه ځینې هغه برخې چې له تاسې سره مرسته کولای شي، دلته تاسې ته راوړم. دا نظریې به له تاسې سره مرسته وکړي او دا به ومنی چې څنګه په ښه ډول فکر کول یو مهم امر دی.

۱ـ هر کار په فکر کولو سره پیلېږي: «ژوند د هغو شیزونو مجموعه ده چې موږ یې په اړه ورځې ورځې فکر کوو.»

۲- زموږ د فکر کولو ښه زموږ شخصیت څرګندوي او زموږ شخصیت زموږ اعمال: «ډېر وخت د نورو د تر سره شوو کارونو په اړه فکر کوم. هغه کارونه چې نور یې تر سره کوي، د هغوی د فکر تر ټولو ښه ترجمان دي.»

۳- زموږ فکر زموږ د برخلیک ټاکونکی دی او زموږ برخلیک بیا زموږ د میراث: «نن په هغه ځای کې ولاړ یاست چې ستاسې افکارو هغه تاسې ته راوړی او سبا کولای شی په هغه ځای کې ولاړ یاستی چې ستاسې افکارو تاسې هلته بوولي یاست.»

۴- هغه کسان چې لوړو ځایونو ته رسېدلي، د نورو په پرتله متفاوت فکر کوي: «هېڅ شی حتی بد فکر کول هم بریا ته رسېدل نه شي محدودولی او هېڅ شی حتی لوړ فکرونه او خیالونه هم له عمل پرته بریا ته رسېدل دوه چنده نه شي کولای.»

۵- کولای شو د خپل فکر ښه بدله کړو: «ډېری ښه، ښتیني، پرځای او جالب موضوعات ښه خوند لري. خو له دې ورهاخوا ډېر کوچنی شیز هم د فکر کولو ارزښت لري.»

څنګه کولای شی د فکر کولو وړتیا لوړه کړی؟

زه هم د ډېرو نورو رهبرانو او پوره انرژي درلودونکو کسانو په څېر ذاتاً د ښه کار کولو وړتیا لرم. پرته له شکه موږ هر یو د بریا لاسته راوړلو لپاره ډېرې هڅې او زحمت ته اړتیا لرو؛ خو د کار د تر سره کولو پر لور میل خپله د محدودیت یو ډول دی. څو کلونه مخکې مې دې ته پام شو چې که غواړم خپلو موخو ته په ښه ډول ورسېږم، باید د تفکر وړتیا مې پیاوړې کړم. که وشی کولای چې لاندې مراحل تر سره کړای شی، بې له شکه چې د تفکر کچه به مو پیاوړې شي. هرڅومره چې ستاسې د تفکر کچه لوړېږي، همدومره مو ذهن ته ښې ایډیاوې راځي او که بیا هماغه ایډیاوو ته د رسېدو هڅه وکړی، ژوند به مو څومره خوندور شي. ښه ژوند؛ د ښو ایډیاوو پر اساس د مناسبو قدمونو اخیستل دي.

الف- فکر کول: فکر کولو ته مو په ارزښت قایل شئ!

ډېری کسان په ښه ډول د فکر کولو پر ارزښت نه پوهېږي. داسې نه ده چې هغوی فکر نه لري، هغوی ښه فکرونه لري، خو دوی ورته په ارزښت قایل نه دي. همدا فکر کولو ته په ارزښت قایلېدل د تفکر وړتیا د پیاوړې کېدو لامل کېږي. زه فکر کولو ته په ارزښت د قایلېدو تر څنګ د همدې وړتیا د پیاوړې کولو لپاره له ځانه دا پوښتنې هم کوم:

۱ـ چېرې کولای شم چې نوې ایډیا پیدا کړم؟ په ښه متفکر د بدلېدو لپاره باید ښه ذهنیت ولرئ. دوه کسان کېدای شي ورته شیزونه ووینې، ورته تجربې او ورته مطالعې ولري؛ خو یو به دا هرڅه له عادي فکر سره کوي او بل به یې له ډېر ښه او عالي هغه سره. زما په نظر، ستاسې د ژوند یوه ورځ له بلې هغه څکه ښه کېږي چې دا دوې پېښې په هغه ورځ پېښې شي: اول دا چې یو چا ته د هغه له ارزښته خبرې وکړو او دویمه دا چې هغه ورځ یوه ښه ایډیا پیدا کړو.

۲- څنګه کولای شو له هغه ایډیا استفاده وکړو؟ ډېری کسان ښې ښې ایډیاوې لري، خو له عمل کولو پرته یې دوه درې- ورځې وروسته له ذهنه وځي. دا د دوی وړتیا او ځیرکتیا نه ده! څکه دوی لا هم خالي لاس دي او هېڅ یې نه دي پیدا کړي.

زه چې کله په «سان دیاګو» کې د کلیسا د یو مربي په حیث مسوول وم، د ټولې کلیسا اداره کوونکي «چارلز» یوځل د خپلې لومړۍ تجربې په اړه راته وویل: «د دغه کلیسا جوړول مې لومړۍ ښه خاطره ده.»

له ځان سره مې وویل، څومره جالبه خاطره! څنګه کولای شم له هغه استفاده وکړم؟ له ځان سره مې په دې اړه فکر وکړ چې ولې له کلیسا زما لومړۍ خاطره خپله په کلیسا کې نه ده رامنځ ته شوې. بالاخره هغه خاطره د کلیسا په پارکېنګ کې پېښه شوې وه. غوښتل مې چې د پارکېنګ د کارکوونکي د کار په اړه مطمئن شم چې هغه سم کار کوي او که نه، هغه ته مې وویل: تاسې د هغو کسانو لپاره لومړۍ خاطره یاست چې کلیسا ته راځي.

کله مو چې یوه ښه ایډیا پیدا کړه، بیا د هغه په اړه فکر وکړئ چې څنګه کولای شی له هغه ښه استفاده وکړی؟

څنګه کولای شی یوې ایډیا ته تر ممکنه حده ارتقاع ورکړی؟

د پیل لپاره یوازې د ښې او استفادې وړ ایډیا لرل کافي نه دي. هره ایډیا کولای شي په بېلابېلو ځایونو کې استفاده او تر ممکن حده هغه ته ارتقاع ورکړی. په دې اړه درته د چارلیز بلیر سپارښتنه وایم: «ما په کلیسا کې د ډېرو کارونو په تر سره کول سره خپلې ایډیا ته نوره ارتقاع هم ورکړه او په دې هدف سره مې دویم ځل ټولو لارښوونکو ته درس ورکړ. څکه دا چاره هغوی ته یوه خاطره وه. ما خپلو نږدو ساختمانونو ته پام وکړ او هغه اغېز مې وارزاوه چې په خلکو یې درلود. کوچنیو مربیانو ته مې دویم ځل زده کړې ورکړې او بالاخره د خلکو په مرسته مې چې په هره برخه کې اړتیا وه، له دې ایډیا استفاده وکړه، چې هماغه وو خپلو لیدونکو ته مو فوق العاده تجربې ارایه کړې.»

هرکله چې تاسې یوه ایډیا لری او کولای شی د هغه ارزښت نورو ته لا زیات کړی، باید هغه یاداښت کړئ او د پوره کولو لپاره یې لاره پیدا کړئ. له ځانه وپوښتئ: چېرته کولای شم خپلې ایډیا ته تر ممکنه حده ارتقاع ورکړم؟ که دا ایډیا ستاسې له تشکیلاتو سره مرسته کولای شی، عملي یې کړئ.



## نړیوال بانک: کرونا وبا تېر کال د افغانستان اقتصادي وده دوه سلنه راټیټه کړې

د نړیوال بانک تازه راپور ښیي، چې په ۲۰۲۰ز کال کې کرونا وبا د افغانستان اقتصاد ته زیان رسولی او د دغه هېواد اقتصادي وده یې دوه سلنه راټیټه کړې ده.

په راپور کې راغلي، چې د کرونا وبا پر مهال د افغانستان د کرنې سکټور تر یوه بریده له اقتصادي ثبات سره مرسته کړې، خو په ۲۰۲۱ز کال کې امنیتي او سیاسي ننګونې او د وچکالۍ ګواښ به په روان کال کې د افغانستان د اقتصادي ودې په مخکې خنډ وي.

د افغانستان لپاره د نړیوال بانک اقتصاد پوه توبیاس حق ویلي، چې پر کرونا وبا سربېره، ناڅرګند سیاسي وضعیت، د ناامنیو زیاتوالی او د سولې د بهیر نامعلوم برخلیک په افغانستان کې د پانګونې د کموالي لامل شوی.

هغه زیاته کړې: «سوداګر ډېر وارخطا دي، باور په ډېره ټیټه کچه کې دی، پانګونه کمه شوې، کاروبار د ښه‌والي پر ځای مخ په خرابېدو دی، له همدې امله هغوی پانګونې ته لېواله نه دي او نه غواړي چې د افغانستان په اقتصادي څرخ کې خپلې پیسې په کار واچوي؛ څکه چې هغوی د ناڅرګنده راتلونکي په اړه اندېښمن دي.»

هغه ټینګار کړی، چې د خصوصي سکټور له پانګونې پرته به د افغانستان اقتصادي وده مخ پر ځوړ وي. نړیوال بانک وایي، که په ۲۰۲۲ز کال کې د کروناوبا تر یوه بریده کنټرول شي، نو د افغانستان اقتصادي وده به په دغه کال کې درې فیصدو ته ورسېږي. د افغانستان لپاره د نړیوال بانک رییس هنري کرالي وایي، چې د اقتصادي وضعیت په ښه‌والي کې پڅتیا او د بې‌کارۍ د کچې لوړېدل د دولت د عوایدو د کمېدو په مانا دی او ورسره به د افغانانو د ژوند شرایط لاپسې سخت شي.

کرالي دغه راز زیاته کړې: «په ۲۰۲۱ز کال کې له افغانستان څخه زموږ د مالي ملاتړ کچه شاوخوا ۷۰۰ میلیون ډالرو ته رسېږي او ښایي دا ۷۵۰ میلیونو ته پورته شي. موږ همداشان په اټکلیز ډول ٦٥۰ میلیون ډالره د نړیوالې ټولنې له ملاتړ څخه هم برخمن یو، چې په مجموعي توګه ۱.۴ میلیارده ډالر کېږي.»

د افغانستان لپاره د نړیوال بانک رییس زیاته کړې، چې د سولې له ټینګېدو وروسته به هم دغه بانک له افغانستان څخه خپل ملاتړ ته دوام ورکړي او که د سولې خبرې مثبت لوري ته لاړې شي، نو له افغانستان سره به د نړیوالې ټولنې په مرستو کې زیاتوالی راشي.

د کرالي په وینا، افغانان باید ډاډه شي چې د سولې توافق د هغوی په ګټه دی او د هغه په باور، دغه توافق به په ملي کچه د خوځښت، د وسله‌والو د ادغام او د کډوالو د راستنېدو لامل شي او دغو مسئلو ته رسېدنه د نړیوالې ټولنې لا زیاتو مرستو ته اړتیا لري.






# Maseer

New Vision, New Journey

Daily



غوره کیفیت او چټک خدمات په وایګل چاپ کې تجربه کړئ!

WAYGAL PRINTING CO

if You Can Think it, we Can ink it.

+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696

Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul

waygalprinting.co

waygalprinting.co@gmail.com



سه شنبه د ۱۴۰۰ د وري ۱۷مه | د ۲۰۲۱ د اپریل شپږمه | ۷۰۴مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۵ | ۲۴ | ۱۶ | ۱۸ | ۲۳ | ۱۴ |
| ۴ | ۹ | ۷ | ۱۰ | ۱۲ | ۵ |

شرعي وختونه: سهار ۰۴:۱۰ | لمر ختل ۰۵:۳۶ | ماسپښین ۱۱:۵۷ | مازیګر ۰۴:۲۹ | ماښام ۰۶:۱۷ | ماخوستن ۰۷:۳۹

## نړۍ



راپورونه: په اندونیزیا کې د سختو سیلابونو او ځمکې ښویېدنې له کبله د مړو شمېر له ۷۰ کسانو واوښت

۳

### راپورونه:
## پــه بنگله دېش کې د دوو بېړیو د ټکر له کبله ۲۶ کسان مړه شوي



د راپورونو له مخې، په بنگله دېش کې یوه بېړۍ چې ۵۰ تنه پکې سپاره وو، له یوې بلې بار وړونکي بېړۍ سره جنگېدلې او لږ تر لږه ۲۶ تنه پکې مړه شوي دي. چارواکي وایي، پېښه د مرکز ډاکه په جنوب کې د شیتالخسیا په سمندر کې شوې ده.

د یاد هېواد چارواکو ویلي چې یو شمېر کسان لا هم تري تم دي. دا بېړۍ له صنعتي ولسوالۍ نارایان ګنج څخه منشي گنج ته روانه وه. د دغې ولسوالۍ مشرمستعین بالله ویلي: «ډېر مړه په بېړۍ کې دننه وو. یو شمېر نور لا هم ورک دي.» پولیس او چارواکي وایي، د بېړۍ ځینو مساپرو لامبو کړې او ځانونه یې ژغورلي دي. د سمندر غاړې ته د یو شمېر کورنیو غړي راغلي چې د خپلو عزیزانو په حال او احوال ځان خبر کړي. د ژغورنې عملې او کارکوونکو له سخت باد سره، بیا هم د ورکو شویو کسانو د لټون چارې جاري ساتلې دي.

د یاد هېواد حکومت څو ورځې مخکې اعلان وکړ، چې د کرونا ویروس له کبله دا ښار کرنتین کوي، په بېړۍ کې ناست اکثریت کسان هغه وو چې غوښتل یې له دغه کرنتین څخه ځانونه وژغوري. د یادونې ده چې په اوبو کې ایسار بنگله دېش کې هرکال سلګونه کسان د بېړیو د ډوبېدو او ټکر له کبله مري.

## د ترکیې حکومت په تازه اقدام کې د دغه هېواد لس متقاعد جنرالان نیولي

د ترکیې حکومت د دغه هېواد د سمندري ځواکونو ۱۰ متقاعد ډگر جنرالان ولسمشر رجب طیب اردوغان ته د یوه انتقادي پرانیستي لیک د استولو په غبرګون کې نیولي دي.

دغو مشهورو متقاعدو سمندري ډگر جنرالانو د استانبول د یوه کانال پر پروژې باندې چې تېره میاشت په رسمي توګه منل شوې، نیوکې کړې دي. ترکیه غواړي د استانبول په اوبو کې د پانامې او یا سویس کانال په څېر د سوداګریزو کښتیو لپاره یوه لار جوړه کړي؛ کومه پروژه چې په ۱۹۳٦ز کال کې د سویس په مونټرکس کې د ترکیې له خوا د لاس لیک شوي تړون له ژمنو سره، سر نه لګوي.

دغه تړون د تورې بحرې د حوزې د هیوادونو پرته د نورو سمندري بېړیو تګ راتګ محدودوي. د ترکیې دغه نوې پروژه چې د ۴۵ کیلو مترو په اوږدوالي د مارمارا بحیره له تورې بحیرې سره نښلوي، د ترکیې د سمندري ځواکونو د ۱۰۴ متقاعدو ډگر جنرالانو په اند د ترکیې په ګټه نه ده او د هغوی په وینا، موجود تړون د ترکیې ګټې ښه خوندي کوي.

د مونټرکس تړون د تورې بحیرې د غیر پوځي کولو په نیت شوی، چې د بوسفوروس او داردانیلیس د تنگۍ له لارې مدیترانې بحیرې ته د تلونکو سوداګریزو او سمندري بېړیو لپاره یې سخت مقررات وضع کړي دي.

## نی: گروه‌های درگیر کشتار غیرنظامیان و خبرنگاران را متوقف کند



نهاد پشتیبان رسانه‌های آزاد افغانستان یا نی از طالبان خواسته است که کشتار غیرنظامیان به‌ویژه خبرنگاران و فعالان رسانه‌یی را متوقف کنند.


نهاد پشتیبان رسانه‌های آزاد افغانستان با پخش خبرنامه‌یی به اعلامیهٔ دیدبان حقوق بشر اشاره کرده است که در آن گفته شده بود، طالبان برای ایجاد ترس و وحشت به گونهٔ عمدی خبرنگاران را هدف قرار می‌دهند.

در خبرنامهٔ نهاد پشتیبان رسانه‌های آزاد افغانستان آمده است: «دفتر نی یک‌بار دیگر طی این اعلامیه از گروه‌های درگیر از جمله طالبان می‌خواهد تا در حملات خویش دست از کشتار غیرنظامیان به‌ویژه خبرنگاران و فعالان رسانه‌یی برداشته، تا باشد نقش اطلاع‌رسانی و فعالیت آزاد خبرنگاران حفظ و جان خبرنگاران و فعالان رسانه‌یی در افغانستان مصون بماند.»

طبق خبرنامهٔ نی، این نهاد پیش از این بارها نگرانی خود در پیوند به قتل‌های هدف‌مند خبرنگاران و فعالان رسانه‌یی را مطرح کرده بود و اعلامیهٔ دیدبان حقوق بشر تأییدی بر نگرانی‌های نی و جامعهٔ رسانه‌یی کشور است. نهاد پشتیبان رسانه‌های آزاد افغانستان قتل خبرنگاران، فعالان رسانه‌یی و اعضای خانواده‌های‌شان را خلاف قوانین ملی و اصول بین‌المللی خوانده و تأکید کرده است که قتل خبرنگاران و فعالان رسانه‌یی به‌عنوان گروه‌های غیرنظامی خلاف قواعد حقوقی جنگ در کنوانسیون چهارگانهٔ ژنوا است و جنایت جنگی و ضد بشری تلقی می‌شود.

## ژونـــد

## سامسُنګ د اې لړۍ نوي موبایلونه معرفي کړل





سامسُنګ کمپنۍ د ګلکسي اې لړۍ چې د غوره ځانګړنو او مناسبې بیې لرلو له امله ځانګړې مینه‌وال لري، نوي څېرک موبایلونه ګلکسي اې۵۲ او ګلکسي اې۷۲ معرفي کړل. سامسُنګ کمپنۍ دې غونډه کې د ګلکسي اې۵۲ دوه مختلفې بڼې چې یو یې له ۴جي او بل یې له ۵جي څخه ملاتړ کوي، کاروونکو ته معرفي کړل، خو موږ نن یوازې ګلکسي اې۵۲ درپېژنو.

### ګلکسي اې۵۲

ګلکسي اې۵۲ کې ٦،۵ انچه مخپاڼه ورکړل شوې ده. له ۴جي څخه د ملاتړ کوونکې بڼې مخپاڼه له ۹۰ هرتز او له ۵جي څخه ملاتړ کوونکې بڼې مخپاڼه بیا له ۱۲۰ هرتز ریفرېش رېټ څخه ملاتړ کوي. له ۴جي څخه ملاتړ کوونکې بڼه کې د کوالکام کمپنۍ سنپ ډراګن ۷۲۰ ډوله پروسېسر او ۵جي څخه ملاتړ کوونکې بڼه کې د کوالکام سنپ ډراګن ۷۵۰ ډوله پروسېسر ورکړل شوی دی. په همدې ډول له ۴جي څخه ملاتړ کوونکې بڼه کې ۸/٦/۴ ګیګابایټ رم او ۵جي څخه ملاتړ کوونکې بڼه کې ۸/٦ ګیګابایټ رم ورکړل شوی او ۲۵٦/۱۲۸ ګیګابایټ د فایل ثبتونې ورتیا لرونکې بڼې لري.

## په نړۍ کې د هیڅا ژوند بې ګټې نه دی



نړۍ تا ته اړتیا لري، که ته نه وې، په نړۍ کې به یو څه کم وي او هیڅوک نشي کولای چې ستا ځای ډک کړي. که ته نه وې، نړۍ به لکه یو پازل ته ورته وي چې یوه قطعه یې کمه ده. هو ته یو څه یې، ځکه چې خدای پاک هیڅ شی بې ګټې نه دی پیدا کړی. ځان ته ارزښت ورکړه، څو نور هم تاته ارزښت درکړي، ته خپله ځانته په ښایسته نظر وګوره، څو نور هم تا ښکلې وګوري. له چا د ستاینې تمه مه کوه، خپله ځان وستایه او هیڅکله د چا په یوه نیوکه له خپل هدف مه په شا کېږه. په نړۍ کې چې څومره مخکښې څېرې ګورې، ځان یې خپله هڅولی او پرمختګ یې کړی دی، زیار یې ایستلی څو دې مقام ته رسېدلې. د دې لپاره چې بریالي اوسو باید ذهنیت مو مثبت وي او د اهدافو په لاره کې خطر ومنو. که مو وګټله، خوشالي به مو نصیب شي او که ناکام شوو، یو تجربه به وشي.

مریم ستانکزۍ





د میرمنو لپاره ځانګړی جاري حساب

عزیزي بانک خوښ دی چې تاسو ته د میرمنو جاري حساب درپېژني چې د افغانستان د درنو او قدرمنو میرمنو لپاره ځانګړی شوی محصول دی. میرمنې کولی شي په اې ټي ام او ماسټر ډېټ کارټونوکې د تخفیف له فیس سره په افغانیو او ډالرو کې پرانیزي. یاد حساب د ساتندویه او لنډ پیغام فیس پرته پرانېستلی شي. همداراز د میرمنو حساب له ټیټ اړتیاوړ بیلانس سره یعنې 500 افغانیو او 50 ډالرو سره پرانېستل کېږي چې میرمنو ته آسانه او ارزانه بانکوالی چمتو کوي.

www.azizibank.af 1515